کتاب

۴ مخ

مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ نهمه | د ۲۰۲۱ د جون ۳۰مه | ۷۴۲مه ګڼه


## د غنمې ځاله




د غنمې ځاله د پښتو ادب د وتلي داستان لیکونکي ښاغلي نصیر احمد احمدي تازه چاپ شوی ناول دی. نصیر احمد احمدي په ناول لیکنه کې اوس یو پېژندل شوی نوم دی

## کرنې وزارت: په لغمان کې پر ۸۶ جریبه ځمکه متراکم بڼونه جوړ شوي



کرنې وزارت وايي چې د لغمان ولایت په مرکز مهترلام او قرغیو ولسوالۍ کې د بڼوالۍ پراختیا او ودې په پار د لیمو او نارنجو ۸۶ متراکم بڼونه جوړ شوي دي.

د یاد وزارت د چارواکو په خبره، یاد بڼونه ۶۵ بزګرانو ته جوړ شوي او په تولیزه توګه ۲۰۹ ښځینه او۲۲۵ تنه نارینه ګټه ترې پورته کوي. دوی وايي چې یاد بڼونه په مسلکي توګه د پروژې د کارکوونکو له خوا جوړ شوي او له دودیزو هغو سره خورا ډېر توپیرونه لري او دوه کاله وروسته حاصلات ورکوي.

د کرنې وزارت د چارواکو په خبره، د متراکمو بڼونو کېنول له یوې خوا د هوا د حرارت د کمښت په برخه کې موثر دي او له بلې خوا د چاپېریال ساتنې په برخه کې خورا رغنده رول لوبوي. دوی همداراز وايي چې راتلونکی کال به د دغو بڼونو شمېر نور هم زیات شي.

## د ښځینې نړیوال سازمان:
# د افغان جګړې ښکلې خواوې دې بشریت ضد کړنې او جنګي جنایتونه پای ته ورسوي



۳

مور به یوازې د خپلې تباهۍ ننداره کوو، که بل څه هم کولی شو؟

۲ مخ

په افغان قضیه کې د ښکېلو لورو دریځونه او د اتفاق او اختلاف ټکي

۲ مخ

ښځه او چاپېریال

۵ مخ

## مېلر: مور وځو، افغان ځواکونه دې خپل هېواد پخپله وساتي

په افغانستان کې د غوڅ ملاتړ ماموریت قوماندان جنرال سکاټ مېلر په خپلو تازه څرګندونو کې په دغه هېواد کې روان وضعیت د اندېښنې وړ بللی دی. نوموړي له اې‌بې‌سي نیوز سره په تازه مرکې کې زیاته کړې، په داسې حال کې چې د امریکایي ځواکونو د وتلو لړۍ بشپړېدو ته نږدې شوې، طالبان د پرمختګ په حال کې دي او افغانان د خپل راتلونکي په اړه اندېښنه لري. نوموړي د خپلو خبرو پر دوام زیاته کړې، تر ټولو بده لا دا چې افغانان وېره لري چې هېواد به یې یو ځل بیا په یوې اوږدې کورنۍ جګړه کې ښکېل شي. مېلر دغه راز څرګنده کړې، دوی ملامت نه دي؛ ځکه، ټول په خپلو سترګو د طالبانو پرمختګویني او هغه څه چې هېڅوک یې نه غواړي پېښ شي، دا دي چې خلکو پر یوې ښې راتلونکې باور له لاسه ورکړی دی.

مېلر د خپلو خبرو په پای کې ویلي، امریکا به د افغان ځواکونو ملاتړ وکړي، خو ټینګار کوي چې دوی مجبور دي له دغه هېواده ووځي، افغانستان د افغانانو کور او د دغه کور ساتنه د افغان ځواکونو مسوولیت دی. مېلر داسې مهال دغه څرګندونې کوي، چې په دې وروستیو کې د بهرنیو ځواکونو د وتلو له اعلان وروسته جګړې ډېرې شوي او طالبانو پراخې سیمې نیولې دي.

## وحید عمر: پاکستاني پوځ د جګړې په ډګر کې له طالبانو مستقیم ملاتړ کوي



۲ مخ

## جنگ در شمال افغانستان؛ نیروهای تاجیکستان به حالت آماده‌باش درآمدند



به دنبال تشدید جنگ در شمال کشور، خبرگزاری دولتی خاور تاجیکستان گزارش داده است که نیروهای مسلح این کشور در خط دوم دفاعی در مرز با افغانستان به یک «رژیم خاص» منتقل شده‌اند.

فریدون محمدعلی‌زاده، سخنگوی وزارت دفاع تاجیکستان، به خبرگزاری خاور گفته است که نیروهای امنیتی این کشور با دیگر نیروهای مرزبانی از سرحدات تاجیکستان محافظت می‌کنند.

او افزوده است: «این روزها هیچ تجهیزات یا نیروی اضافی تحویل داده نشده است و فعلاً برنامه‌ای برای انجام این کار وجود ندارد؛ زیرا اوضاع ناپایدار در افغانستان ما را مجبور کرده است تا واحدهای نظامی خود را در خط دوم دفاع تقویت کنیم.»

طبق گزارش خبرگزاری خاور، در جریان ده روز گذشته درگیری‌ها بین نیروهای امنیتی و جنگ‌جویان طالبان در چهار نقطه مرزی تاجیکستان رخ داده است و هشت منطقه و دو پاسگاه مرزی به دست طالبان افتاده است.

پیش‌تر کمیته دولتی امنیت ملی تاجیکستان گفته بود که در پی حمله طالبان به شیرخان بندر در ولایت کندز، حدود ۱۳۴ نیروهای امنیتی از مرز عبور کردند و به تاجیکستان رفتند. شیرخان بندر حدود هشت روز پیش به دست طالبان سقوط کرد.

این کمیته هم‌چنان گفته است که ۱۷ نیروی امنیتی افغانستان پس از حمله طالبان از ولسوالی کلدار به تاجیکستان آمده‌اند. شماری از نیروهای امنیتی به اوزبیکستان نیز رفته‌اند. وزارت خارجه کشور گفته است که این حادثه را بررسی می‌کند.


کتاب مو
د ژوند ملګری کړئ

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### موږ به یوازې د خپلې تباهۍ ننداره کوو، که بل څه هم کولی شو؟

لا هم هره ورځ د جګړې خبرونه دي او د سولې په برخه کې د کوم تحرک ځرک نشته. طالبان لا پرمختګ کوي، حکومت هم د طالبانو پر وړاندې د دربدو خبرې کوي، د ځینو ولسوالیو د بېرته نیولو خبرونه ورکوي او ورسره په شدت سره په ټول هېواد کې ملېشې هم جوړېږي. له یوه اړخه د جګړې دا شدت او له بله اړخه د ملېشو جوړول هغه څه دي چې خلک یې سخت اندېښمن کړي دي. له دې سره په یوه وخت امریکایي چارواکي پرله پسې د ناوړه راتلونکي خبرونه ورکوي او آن د حکومت د سقوط خبرونه هم خپروي. اوس افغانستان یو مبهم لوري ته روان دی، چې ورسره ډېری افغانان فکر کوي له سختو ستونزو سره به مخ شي او د ژغورنې کوم ځرک نه ګوري.

خو افغانان به هر څه ته همداسې د ندارچیانو په توګه ګوري او که د خپل برخلیک د ټاکلو لپاره څه کولی هم شي؟ د افغانستان د جګړې د ښکېلو لورو پر موخو ډېر بحثونه شوي دي او ټول حکومت او طالبانو دواړه ملامتوي چې د سولې پر ځای پر جګړه ټینګار کوي. یو لوری فکر کوي چې هر څه په زور نیولی شي او بل لوری فکر کوي چې په سوله کې به خپل واک او ځواک له لاسه ورکړي. دغو دواړو حالتونو جګړه ګرمه کړې چې ورسره د سولې خبرې هم ټپه ولاړې دي. د افغانستان د اوسنۍ جګړې د پېلوونکې امریکا پر نیت هم پوره شکونه شته. آن داسې شواهد شته چې دوی په قصدي ډول غواړي دلته کورنۍ جګړه وغځېږي. له همدې امله یې ټول تمرکز پر هغو چارو دی چې جګړه وغځېږي او خلک پر خپل راتلونکي ناهیلي شي. همدا چې امریکا خپل ځواکونه و ایستل، خو له طالبانو سره یې هوکړه پوره عملي نه کړه، همدا چې اوس سوله د لومړیتوب په توګه نه یادوي او همدا چې امریکایي چارواکي پرله پسې د افغان حکومت د سقوط، کورنۍ جګړې او د افغانانو د بیا کډوالۍ وړاندوینې کوي، دا ښیي چې امریکا غواړي افغانستان همدغه لوري ولاړ شي. دوی دغه حالت ته د تګ لپاره هم تلیغات کوي او هم عملي ګامونه اخلي. امریکا غواړي چې افغانستان په یوه ناوړه کورنۍ جګړه کې را ښکېل کړي، خو نړۍ ته وښیي چې په افغانستان کې د جګړې لامل امریکا نه، بلکې خپله افغانان دي او د دوی له وتلو وروسته هم هلته جګړه روانه ده.

اوس به ښکېل اړخونه او امریکا خپل کار کوي، خو دا لویه برخه افغانان چې له دې حالته زیان ویني، باید لاس تر زنې پاتې نه شي. ډېر واړه او لوی ګوندونه، ټولې او خلک شته چې له دې حالته نا راضه دي. دوی ټول کولی شي چې په چټکۍ سره په یوه ځواک بدل شي او ولس یې شاته ودریږي. دوی باید ودرېږي او دواړه اړخونو ته یو واضح پیغام ورکړي. همدا اوس که یو ځواک پیدا شي او د درېیمګړي رول ولوبوي، نو هم به یې ولس په شدت سره ملاتړ وکړي او هم به ښکېل اړخونه اړ کړي چې د جګړې پر ځای پر سوله تمرکز وکړي. که همداسې یو ځواک جوړ شي او موخه یې هم یوازې سوله وي، نو د ولس په ملاتړ به پیاوړی شي او بیا د سولې لپاره نه یوازې پر دواړو اړخونو غږ کولی شي، بلکې داسې فشار پرې راوړلی شي چې هغوی ترې تېښته ونه شي کړلی. له همدې امله پکار ده چې نور خلک او هغه ګوندونه او سیاسي فعالین چې د سولې پلویان دي، عملي ګام واخلي او تباهۍ لوري ته د افغانستان د ورتګ مخه ونیسي.

# په افغان قضیه کې د ښکېلو لورو دریځونه او د اتفاق او اختلاف ټکي

لیکنه: د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

**لومړۍ برخه:**

**مقدمه**

په ملي او نړیواله کچه بېلابېلې هڅې شته، څو د افغانستان اوږده جګړه پای ته ورسوي. دغې جګړې نه یوازې دا چې افغانان له خورا زیاتو ستونزو او ناخوالو سره مخ کړي، بلکې د سیمې او نړۍ په کچه هم خپلې ژورې اغېزې او زیانونه لري. د افغان قضیې پېچلتیا یوازې داخلي اړخونه هم نه لري، بلکې نړیوال او سیمه ییز فکټورونه هم د افغانستان په قضیه کې برجسته رول لري. سره له دې چې د افغانستان د روانې خونړۍ جګړې اوږدېدل تر ډېره د دغې قضیې د پېچلتیا او د پردیو د پراخو لاسوهنو له کبله دي؛ خو په ټولییز ډول د افغان ملت قاطع عزم او تصمیم دا جګړه ختمولی شي.

په اوسنۍ مرحله کې داسې ښکاري، چې د قضیې د ښکېلو اړخونو تر منځ د اختلاف ټکي خورا کم شوي او د اتفاق ټکي یې تر منځ زیات دي؛ خو له بده مرغه د شته کمو اختلافي موضوعاتو د له منځه وړلو لپاره جدي عزم او هڅې نه تر سترګو کېږي. له داخلي اړخ ورهاخوا په سیمه‌ییزه او نړیواله کچه هم د افغان قضیې په اړه اختلافي ټکي کم دي. دا چې اوسمهال د افغانستان په قضیه کې د داخلي، سیمه‌ییزو او نړیوالو لوبغاړو دریځونه او تر منځ یې د اختلاف او اتفاق ټکي څه دي؟ په دې لیکنه کې لنډه کتنه ورته کوو.

**د داخلي جهتونو دریځونه**

**لومړی: د افغانستان حکومت**

د افغانستان اوسنی نظام او په ځانګړې توګه حکومت تر ډېره د نړیوالې ټولنې په مرسته دلته حاکم شوی او دریځونه یې هم مستقیماً د نړیوالې ټولنې په ځانګړې توګه د امریکا د پرېکړو او دریځونو تر اغېزې لاندې دي. همدا لامل دی، چې د افغانستان په تړاو د امریکا د ستراتیژیو له بدلون سره وخت ناوخت د حکومت دریځونه هم بدل شوي. خو دا چې حکومت د قضیې یو اساسي اړخ دی، د حکومت دریځ او د سولې په قضیه کې یې له نورو لورو سره د اختلاف او اتفاق ټکي د سولې پر بهیر نېغ په نېغه اغېزې لري.

په تېرو وختونو کې د سولې په اړه د افغان حکومت دریځونه تل پر دې راڅرخېدلي چې څه ډول د نړیوالې ټولنې پوځې همکارۍ په افغانستان کې جاري وساتي او له لارې یې خپل وسله‌وال مخالفین یا په بشپړ ډول مات کړي او یا یې هم د سولې د پروسې له لارې د حکومت پر شرایطو له وسله‌وال مخالفت څخه راوګرځوي. خو اوس له کابو دوو لسیزو جګړو وروسته او په ځانګړې توګه له وروستیو بدلونونو وروسته تقریباً ټول لوري پر دې قانع شوي، چې د جګړې له لارې دا مسئله نه شي حل کېدای. په تېره کله چې په تېرو څه باندې دوو کلونو کې د افغان قضیې په اړه د نړیوالې ټولنې او خاصتاً امریکا په دریځ کې بدلونونه راغلل او په دې وروستیو کې یې بالاخره له افغانستانه د خپلو پوځونو بشپړ ایستل اعلان کړل. له دې کبله د افغان حکومتونو پر مخکېنیو دریځونو خبره نه کوو او مستقیماً راځو د حکومت اوسنیو دریځونو ته.

د افغانستان د حکومت دریځ اوسمهال په دوو برخو وېشلی دی. یو یې د ولسمشر دریځ دی او دویم هم د ملي مصالحې د عالي شورا دریځ دی، چې په اوسني وخت کې د افغانستان د حکومت د چارو واګې په لاس کې لري او اوسنی حکومت یې د سیاسي توافق له مخې په مشارکتي ډول جوړ کړی دی. که څه هم د اوسني حکومت د جوړښت په سیاسي توافقنامه کې د سولې د بهیر اړوند بشپړ صلاحیت د مصالحې عالي شورا ته ورکړل شوی، خو تېرو دوو کلونو ثابته کړه چې لا هم ولسمشرۍ ماڼۍ د سولې د بهیر په اړه لومړۍ خبره کوي. په ورته وخت کې د ملي مصالحې عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله عبدالله بیا له ولسمشر سره څه متفاوت دریځونه لري او هڅه کوي چې د سولې په بهیر کې خپل رول ولري.

لومړی دریځ: که موږ د ولسمشرۍ ماڼۍ دریځ وګورو، نو ښکاري چې د افغانستان حکومت لا هم تر یوه حده د ۲۰۱۸ کال په وروستیو کې د سولې لار نقشې تر نوم لاندې وړاندې کړې طرحې پر عملي کېدو ټینګار لري. د ولسمشر غني د سولې لار نقشه کې ټینګار شوی و، چې د لنډمهاله ګټو لپاره باید پایداره سوله قرباني نه شي او له همدې کبله یې دا بهیر د یوې وخت ګیرې او اوږدې پروسې په توګه تشریح کړی و. په دې طرحه کې همدا راز د افغانستان د حکومت تر مشرۍ او مالکیت لاندې بهیر باندې ټینګار شوی و، کوم څه چې ځینو سیاسیونو د دې پروسې د بریا پر وړاندې خنډ باله او لا یې هم بولي. د سولې په اړه د ولسمشر دریځ پر ټاکنو ټینګار دی. د سولې لار نقشه کاږي: «افغانان د سولې د هوکړې تصویب، د هغې عملي کولو او د ټولنیزې پخلاینې رهبري کولو لپاره یو منتخب حکومت ته اړتیا لري».

ولسمشر اشرف غني اوس هم تقریباً پر همدغه دریځ ټینګار لري، خو په دغه دریځ کې یې له پخوا سره توپیر دا دی، چې اوس له وخت مخکې انتخاباتو ته چمتووالی لري او حتی وايي چې خپله او د ټیم غړي به یې هم په دغو ټاکنو کې کاندید نه وي، مګر له ټاکنو پرته د واک خوشي کولو ته چمتو نه دی. دا د ولسمشرۍ ماڼۍ، طالبانو او نورو سیاسیونو تر منځ یو د اختلاف ټکی دی، ځکه په حکومت کې دننه د ځینو کړیو په ګډون بېلابېل جهتونه پر دې قانع دي، چې په اوسنیو شرایطو کې ټاکنې نه یوازې عملي وړاندیز نه دی، بلکې په دې پروسه کې د یوه خنډ په توګه مطرح کېدای شي. له یوې خوا د ټاکنو په اړه د طالبانو دریځ دا دی چې د اوسنیو قوانینو او بنسټونو تر سیوري لاندې هېڅ ډول انتخاباتو ته چمتو نه دي او له بلې خوا د تېرو انتخاباتو د ناکامو تجربو له کبله په افغانستان کې انتخاباتي پروسې هم په ملي او نړیواله سطحه بې باوره شوې دي او دا باور نه شي رامنځته کېدلی، چې د اوسني نظام تر چتر لاندې دې شفاف انتخابات ممکن شي.

د افغان سولې لپاره د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له لوري د سولې طرحې له شریکولو او په ترکیه کې د پلان شوي بین الافغاني کنفرانس له اعلان سره ولسمشر اشرف غني د دغه کنفرانس لپاره خپله طرحه د اپرېل (۲۰۲۱م) په لومړیو کې د (د افغانستان د سولې لار نقشه) تر نوم لاندې یوه غونډه کې تشریح کړه، چې تر ډېره د حکومت او په ځانګړې توګه د ولسمشر او ورسره ټیم د دریځونو ښکارندویي کوي. نوموړي په دغه غونډه کې وویل: «موږ ته د نظام دوام مهم دی، د ځان دوام راته مهم نه دی.» هغه ټینګار وکړ چې د سولې حکومت د اساسي قانون په چوکاټ کې جوړېدای شي؛ خو وظایف یې د ګډې موافقې له لارې ټاکلی شو. د ولسمشر اشرف غني دا طرحه درې پړاوونه لري، چې په لومړي پړاو کې یې سیاسي توافق او اوربند راغلی، په دویم پړاو کې هم د سولې حکومت رامنځته کېدل او ټاکنې او په درېیم پړاو کې هم دولت جوړونه او اوږدمهالې چارې. د نوموړي په وینا، هېڅوک دې دا فکر نه کوي، چې منتخب ولسمشر او معاونین یې استعفا کوي، بلکې د مشروعیت منبع یوازې او یوازې د خلکو رایې دي او تحول باید د ټاکنو له لارې راشي، خو بیا هم دی تیار دی چې په ټاکنو کې ځان نوماند نه کړي. د ده په وینا، د اساسي قانون پر موادو باید د افغانانو تر منځ بحث وشي او د نورو له لوري وړاندیز شوي اصول ورته د منلو نه دي. له دې کبله، داسې ښکاري چې د ولسمشرۍ ماڼۍ د استانبول په څېر کنفرانس کې د افغانستان د راتلونکي په اړه له بشپړ توافق سره مخالفت لري او د سولې اړوند ډېرې چارې باید د اوسني حکومت تر مدیریت لاندې تر سره شي، کوم څه چې حکومت یې د افغانانو تر مالکیت لاندې پروسه بولي. ولسمشر اشرف غني څو اونۍ وړاندې فارن افېرز مجلې ته په یوه لیکنه کې د لومړي ځل لپاره ومنله چې سولې ته د رسېدو په شرط د واک پرېښودو ته چمتو دی او هم یې د انتقالي دورې د مدیریت لپاره د موقت حکومت د جوړېدو له طرحې هم ملاتړ وکړ. خو بیا هم د دغه موافقت ترڅنګ ځینې شرطونه وړاندې کوي او د جمهوري نظام پر ساتلو، تر هر څه وړاندې اوربند او داسې نورو ټکو ټینګار لري.

لنډه دا چې حکومت د سولې قضیه په خپل انحصار کې ساتل غواړي او په هغه مفهوم او بڼه سوله کول غواړي چې حکومت یې د سولې په اړه لري. له حکومت سره د سولې مفهوم دا دی، چې طالبان باید د اشرف غني په مشرۍ جوړ شوي حکومت کې شریک شي او هر ډول پوزېشنونه که غواړي وربه یې کړي. په دې توګه حکومت اساساً له حزب اسلامي سره د شوې سولې د ماډل تکرارول غواړي.

له دې سره سره د ارګ د ټیم دریځ د حالاتو او فشارونو له زیاتېدو او کمېدو سره بدلېږي را بدلېږي او دې کار په حالاتو کې یو ډول بې‌ثباتي رامنځته کړې ده او هېڅوک په دې نه توانېږي چې د راتلونکي په اړه دقیق نظر ورکړي.

دویم دریځ: په بل اړخ کې بیا د حکومت بل شریک سیاسي لوری د سولې او روان وضعیت په اړه بېل دریځ لري. له دې کبله د سولې په موضوع کې اوسمهال داخلي اجماع نشته. همدا لامل و چې د سولې لار نقشې د تشریح په یاده شوې غونډه کې د ملي مصالحې د عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله او یا ورسره اړوندو سیاسیونو حضور نه درلود. وروسته بیا د سولې د طرحې په جوړولو کې هم د دوی تر منځ اختلافات ولیدل شول. د ولسمشر دویم مرستیال د ملي مصالحې عالي شورا تورنه کړه، چې د ولسمشر د سولې له طرحې سره یې توهین آمېز چلند کړی او د مصالحې عالي شورا له لوري ترتیب شوې طرحه یې ناقصه وبلله.

له طالبانو سره د سولې او راتلونکي نظام په اړه د ملي مصالحې عالي شورا د رییس ډاکټر عبدالله او اړوند سیاسي لوري نظر ډېر روښانه نه دی او داسې ښکاري چې د حکومت دا سیاسي شریک هم د حالاتو له بدلون سره د خپل موقف په اړه تصمیم نیسي. په قطر کې د بین الافغاني مذاکراتو له پیل وروسته چې د ولسمشرۍ ماڼۍ دریځ هغه مهال د موقت حکومت مخالفت و، ډاکټر عبدالله په ضمني توګه د موقت حکومت له راتګ سره توافق درلود. له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د بشپړ وتلو تر اعلان مخکې بیا ډاکټر عبدالله داسې څرګندونې هم کړې، چې د موقت حکومت مخالفت ترې څرګندېږي. په دغو څرګندونو کې د ډاکټر عبدالله نظر دا و، چې د لنډمهالي حکومت له راتګ سره سوله نه شي راتللی. وروسته کله چې امریکا له افغانستانه د خپلو ټولو سرتېرو وتل اعلان کړل او د افغان سولې لپاره د امریکا له لوري یوه طرحه وړاندې شوه، د مصالحې عالي شورا یو ځل بیا د دغې طرحې په لړ تعدیل سره داسې وښوده، چې د موقت حکومت له راتګ سره توافق لري. د سولې د دغې طرحې په وړاندې کولو سره د مصالحې عالي شورا دریځ داسې ښکاري، چې د حکومت تر مدیریت لاندې د سولې له توافق سره مخالفت لري او دې ته ترجیح ورکوي، چې په کوم نړیوال کنفرانس کې د نړیوالو تر نظارت لاندې د افغانستان د راتلونکي په اړه پرېکړه وشي. د ملي مصالحې عالي شورا او ورسره تړلي سیاسي لوري نظر له دې کبله هم ډېر روښانه نه دی او پر ځای یې د وضعیت ځارنې ته ترجیح ورکړې، چې په وینا یې (د طالبانو نظر مبهم دی) او داسې ښکاري چې دوی د طالبانو له بیاځلې بشپړ واکمنېدو وېره لري. له همدې کبله یو ځل د مصالحې عالي شورا د رهبرۍ کمېټې غړي او د ولسمشرۍ پخواني مرستیال محمد یونس قانوني په وضاحت سره د طالبانو پرضد د دویم مقاومت خبره مطرح کړه. همدا راز ډاکټر عبدالله یو ځل وویل، چې د طالبانو موقف تل مبهم وي.

**دویم: طالبان او نور وسله‌وال مخالفین**

د طالبانو دریځ تر اوسه ډېر د بهرنیو ځواکونو پر بشپړ وتلو راڅرخېدلی او د نظام او بین الافغاني تفاهم په اړه یې دریځ په ډېرو جزیاتو سره مشخص نه دی. له همدې کبله، ولسمشر فارن افېرز مجلې ته په لیکنه کې لیکي: «ډېر وضاحت نشته چې طالبان څه غواړي، هغوی اسلامي نظام غواړي او دغه اسلامي نظام په افغانستان کې شته، خو...

پاتې ۳مخ کې

## په افغان قضیه کې د ښکېلو لورو...

د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ یوه سیاسي توافق ته په رسېدو کې د بریالیتوب لپاره باید دغه ډله (طالبان) خپل مطلوب هدف په پوره جزیاتو او روښانه ډول بیان کړي.»
په ټولیز ډول، طالبانو لږ تر لږه په بېلابېلو وختونو کې دا تصریح کړې، چې دوی د واک د انحصار په لټه کې نه دي او په افغانستان کې داسې "اسلامي" نظام غواړي چې ټول ملت خپل ځان پکې وګوري. طالبانو تل ټینګار کړی، چې د نظام ډول د بین الافغاني مذاکراتو د اجنډا موضوع ده او د مذاکراتو د مېز پر سر به توافق پرې کېږي.
په وروستیو میاشتو کې کله چې د طالبانو لپاره د مطلوب اسلامي نظام د تشریح په اړه غوښتنې زیاتې شوې، دوی پر خپله رسمي وېبپاڼه د اسلامي نظام د ډول په اړه یوه مقاله خپره کړه؛ خو بیا هم د عمومیاتو په اړه بحث کوي. مقاله کاږي چې طالبان داسې نظام غواړي چې د ټولو حقوق پکې خوندي او د ولسمشر دنده پکې د واشنګټن د منافعو ساتنه نه وي. د مقالې په یوه برخه کې راغلي: «موږ داسې اسلامي نظام غواړو چې دیني ارزښتونه، ملي ګټې، خپل کلتور او روایات مو محفوظ وي.» له دې کبله طالبانو لا هم د خپل مطلوب اسلامي نظام په اړه واضح تصویر نه دی وړاندې کړی، کوم څه چې دا پروسه پېچلې کړې، ځکه حکومتي لوری د جمهوریت پر ساتلو ټینګار لري او په مقابل کې د طالبانو له دریځونو ښکاري چې اوسنی جمهوریت او ډیموکراسي په هېڅ صورت ورته د منلو نه دي. له همدې کبله د مسکو له کنفرانس وروسته د ترویکا له لوري په خپره شوې اعلامیه کې له اسلامي امارت سره مخالفت د طالبانو غبرګون وپاراوه او په یوه کنفرانس کې یې وویل، چې د نظام ډول به افغانان په خپله ټاکي او دوی د اسلامي نظام له غوښتنې شاتګ نه کوي.
همدا راز حکومت تل له طالبانو د اوربند غوښتنه کړې او حتی ډېر کله یې ټول مسایل د اوربند له عملي کېدو سره تړلي. خو د طالبانو دریځ دا دی، چې موقت اوربند ستونزه نه شي هوارولی او د دوحې تړون له توافق سره سم، اوربند د بین الافغاني مذاکراتو برخه ده او پر ځینو مسایلو له توافق وروسته به پر اوربند خبرې کېږي. طالبان د ولسمشر غني د سولې طرحه د دوی د تسلیمولو د غوښتنې په معنا بولي او د بهرنیو ځواکونو تر سیوري لاندې جوړ شوي نظام او واکمنانو دوام ورته د منلو نه دی، بلکې په وینا یې چې بنسټیز بدلون باید راشي. طالبان اساساً د هېواد د راتلونکي په اړه په پرېکړو کې د امریکا او ناټو د نفوذ مخالفت کوي او افغان حکومت هم د دغه نفوذ برخه ګڼي.
د طالبانو دریځ دا دی، چې د بهرنیو ځواکونو له بشپړ وتلو وړاندې په هېڅ داسې کنفرانس کې ګډون نه کوي، چې د افغانستان د راتلونکي په اړه پرېکړه پکې کېږي. که څه هم په دې وروستیو کې یې د استانبول احتمالي کنفرانس کې له ګډون سره مشروط توافق کړی؛ خو په دغو شرطونو کې بیا هم اساسي خبره دا ده، چې په دغه کنفرانس کې به تصمیم‌نیونه نه کېږي.

**درېیم: افغان سیاسي جهتونه**

د افغان حکومت او طالبانو تر څنګ، د قضیې بل مهم لوری چې اوسمهال په داخلي کچه د هېواد د راتلونکي په اړه برخلیک ټاکونکی رول لري، بېلابېل سیاسي لوري، سیاسي شخصیتونه او مطرح سیاسي احزاب دي. اوسمهال ډېری دغه سیاسیون او سیاسي احزاب د حکومت له دریځونو سره په مخالفت کې ولاړ دي او له همدې کبله اوس حکومت او په ځانګړې توګه ولسمشر هڅه کوي، چې د دولت د عالي شورا تر نامه لاندې یوه چتر کې ډېری دا سیاسي شخصیتونه او د احزابو مشران راټول کړي، څو د سولې پروسې او د هېواد د راتلونکي په اړه ملي اجماع ته زمینه برابره شي.
په تېر کې بېلابېلو سیاسي لورو د سیاسي اجماع د نشتون له کبله پر حکومت نیوکې کړې او حتی د حکومت د اوربند غوښتنه یې هم غیر واقعبینانه بلله. په مجموع کې سیاسي احزاب او نور سیاسي لوري او شخصیتونه تل د لنډمهالې دورې په اړه د حکومت له دریځ سره په مخالفت کې وو. ډېری سیاسیون په دې اند دي، چې انتقالي حکومت یوازېنی د حل لاره ده او اوسنی حکومت باید د واک پرېښودو ته چمتو شي. **دوام لري...**

## وحید عمر: پاکستاني پوځ د جګړې په ډګر کې له طالبانو مستقیم ملاتړ کوي



د ولسمشرۍ ماڼۍ د ستراتېژیکو او عامه اړیکو د دفتر مشر وحید عمر په کابل کې د یوې خبري غونډې پرمهال وویل، چې د جګړې په ډګرونو کې اسناد او شواهد ترلاسه شوي چې پاکستاني پوځیان نېغ په نېغه له طالبانو ملاتړ کوي.
عمر زیاتوي، هغه پیغامونه چې له پاکستانه راځي، په ظاهر کې یو شی، خو د عمل په ډګر کې بل شی وي او د ده په وینا، په پاکستاني رسنیو کې هم د طالبانو په ګټه تبلیغات پیل شوي دي.
عمر زیاتوي: «د جګړې په ډګر کې داسې ډېری اسناد او شواهد رامنځته شول چې اوس هم پاکستاني پوځیان، نېغ په نېغه له طالبانو ملاتړ کوي، په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې چې کوم تبلیغات کېږي، هغه هم تر ډېره د پاکستان له خاورې کېږي، نه یوازې پټنځایونه یې هلته دي، تجهیز کېږي، بلکې تبلیغات هم له هغه ځایه ورته کېږي، د دوی یو مهم وزیر هم دا خبره وکړه.» نوموړي زیاته کړه، ورو ورو له طالبانو د پاکستان د ملاتړ او د دوی ترمنځ اړیکې هره ورځ واضح او برملا کېږي چې دا مسئله له هېچا پټه نه‌ده. عمر د ولسمشر غني څرګندونو ته په اشارې سره وویل، د پاکستان لپاره اوس وخت دی چې خپله محاسبه بدله کړي، هغه څه چې دوی په ظاهر کې وایي چې پاکستان یو باثباته، سوله‌ییز او مرفع افغانستان غواړي او د دوی په ګټه دی، دا دې په عمل کې ثابته کړي.
وحید عمر دغه راز وایي چې له طالبانو د دوی د ملاتړ پر مسئلې د افغانستان خلک، سیمه او حتی نړۍ هم پوهېږي. ولسمشر د ستراتېژیکو او عامه اړیکو د دفتر مشر ټینګار وکړ، چې طالبان د زور له لارې واک ته نه شي رسېدلی، بلکې د دوی پر مخ د سولې دروازې خلاصې دي. خو د طالبانو ویاند ذبیح‌الله مجاهد له دوی څخه د پاکستان د ملاتړ ادعا ردوي او وایي، که په دې برخه کې کوم اسناد او شواهد موجود وي، نو نړیوالې ټولنې ته دې وړاندې کړي. دا څرګندونې داسې مهال کېږي، چې دوې ورځې وړاندې د پاکستان د کورنیو چارو وزیر شېخ رشید له یو پاکستاني خصوصي ټلوېزیون سره په ځانګړې مرکه کې ویلي وو چې د طالبانو کورنۍ په پاکستان کې دي او ډېری مړي یې هم پاکستان ته لېږدول کېږي.

### د بښنې نړیوال سازمان:

## د افغان جګړې ښکېلې خواوې دې بشریت ضد کړنې او جنګي جنایتونه پای ته ورسوي



د بښنې نړیوال سازمان وایي، په افغانستان کې د جګړې ښکېلې خواوې باید بشري قوانینو ته درناوی وکړي. د دغه سازمان له لوري په خپره شوې اعلامیه کې راغلي، چې د افغان جګړې دواړو لورو په وروستیو کې داسې اقدامات ترسره کړي چې بشر ضد کړنې او جنګي جنایت ګڼل کېږي. په فاریاب کې د طالبانو له لوري د ملي اردو د ځانګړو ځواکونو د اسیرانو له وژل کېدو او په غزني کې د ملي اردو ځواکونو له لوري د طالبانو مړو ته له سپکاوي وروسته، د بښنې نړیوال سازمان ویلي، دغه ډول پېښې د جنګي قوانینو نقضول دي او باید مخه یې ونیول شي. هغه ویډیوګانې چې په خواله رسنیو کې خپرې شوې، د دې ښودنه کوي چې په فاریاب کې د ملي پوځ د ځانګړو ځواکونو د ۲۳ سرتېري او افسران د طالبانو له خوا وژل کېږي، دغه راز په یوه بله ویډیو کې د ملي پوځ ځواکونه په غزني ولایت کې د طالب جنګیالو مړو ته سپکاوی کوي. د بښنې نړیوال سازمان همدا راز ویلي چې په افغانستان کې روانه جګړه باید ژر تر ژره ودرول شي او ښکېلې خواوې دې خبرو ته سره کېني. په ورته مهال د بشري حقونو خپلواک کمېسیون بیا وایي چې په افغانستان کې جنګي جنایتونه روان دي او باید یوه نړیواله بې طرفه ډله وګومارل شي تر څو دغه جنایتونه وڅېړي او په اړه یې خپلواکې پرېکړې وکړي. دعه رزا د افغانستان د بشري حقونو د سازمان رییس لعل ګل لعل هم وایي چې افغانستان د بشري حقونو د کنوانسیونونو غړیتوب لري او که د افغان ځواکونو له لوري دغه ډول کړنې بیا تکرار شي، نو دغه چاره به له دوی سره د نړیوالو د مرستو د کمښت لامل شي. د هغه په خبره: «د جګړې دواړه لوري تر اوسه یې خپلې جګړې مدیریت کړې نه دي په دې دلیل چې دوی د جنګي عاملانو د مکافاتو او مجازاتو کلتور نه لري.»
په ورته مهال ولسمشر غني بیا ویلي چې افغان دولت د بشري حقونو پر ټولو قواعدو باور لري او د طالبانو له لوري د بشري حقونو نقض په کلکو ټکو غندي. نوموړي دا څرګندونې تېره ورځ له والیانو او د ولایتونو له امنیه قوماندانانو سره په ویډیویي کنفرانس کې کړې دي. د ارګ د معلوماتو له مخې، ولسمشر غني په یاد ویډیویي کنفرانس کې امریکا ته د دولتي پلاوي د سفر په اړه معلومات ورکړي او د وسله والو د پلانونو د دفعې او شنډولو په برخه کې یې د امنیتي او دفاعي ځواکونو د مېړانې ستاینه کړې ده. د سرچینې په خبره، ولسمشر غني زیاته کړې چې افغان دولت د مسوول او منتخب حکومت په توګه د بشري حقونو اصولو ته ژمن دی او ملکي او نظامي مسوولینو ته یې لارښوونه کړې ده چې په خپلو ټولو چارو کې د بشري حقونو قوانینو ته پوره پاملرنه وکړي. بلخوا ملي دفاع وزارت هم وایي چې هره هغه پېښه چې د جګړې له قانون نه پکې سرغړونه وشي، څېړل کېږي. د دغه وزارت ویاند روح الله احمدزی وایي: «د هېواد د اساسي قانون، د جنګي منازعاتو قانون او بشري حقونو او نړۍوالو کنوانسیونونو رعایت زموږ په کاري لومړیتوب کې دی. هغه څه چې رامنځته شوي، په جدي توګه څېړل کېږي او عاملان یې باید له قانوني چلن سره مخ شي.»
خو وسله وال طالبان بیا په جنګي جنایتونو او د بشري حقونو په تر پښو لاندې کولو کې خپل لاس لرل ردوي.

## د کتــاب خبــرې

# انسان د مانا په لټون

ليکوال: **ويکټور فرينکل**
ژباړن: **ميراحمدياد**




## د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

دا خلک د بنديانو او د دوی د شتمنيو مسئولين وو. په دې شتمنيو کې به کمېافته شيان او قاچاق شوې ګاڼې هم وې. شويتز به د جګړې په وروستيو کلونو کې د اروپا تر ټولو جالب مرکز وي. دلته به د سرو، سپينو او غميو ډکې خزانې وې. دا به نه يوازې په لويو زېرمتونونو کې وې، بلکې د SS په لاسونو کې به هم وې.
يونيم زر تنه داسې يوه لوی هنګر ته ننويستل شول چې دوه سوه تنه پکې په سختۍ ځايېدل. زموږ ټولو سخته يخني کېده او ډېر وږي وو. په کوټه کې دومره ځای نه و چې چا پکې پلتۍ وهلې وای. پرېوتل خو پرېږده. په تېرو څلورو ورځو کې مو ايله يو کپ وچه ډوډۍ خوړلې وه چې ايله درې څلور سوه ګرامه وه. په دې وخت کې هم د زندان يوه مشر له يوې ترلاسه کوونکې ډلې سره د نيک ټايي د يوه پين پر سر چنې وهلې. دا پين له سپينو زرو او الماسو جوړ و. دغه غنيمتونه به بيا په شرابو بدلېدل او زما اوس ياد نه دي چې د يوې شيېې نښې بيه به څو زره مارکه راتله؛ خو يوازې دومره پوهېږم چې دا اوږدمهالي زندانيان شرابو ته اړ وو. په دې حالت کې دوی چا ملامتولای شول چې نېشه ولې کوي. د SS افسرانو يوې ډلې زندانيانو ته ښه پرېمانه شراب ورکول. دا هغه کاريګر وو چې د ګاز په خونو او د انسان سېځلو په تنورونو کې به يې کار کاوه. دوی ښه پوهېدل چې يوه ورځ به د دوی پر ځای بله ډله راځي او دوی به خپله تنور ته ننويستل کېږي.
تقريباً زموږ ټولو همسفره ملګرو دا خيال درلود چې يوه ورځ به وژغورل شي او ژوند به ورته يو ځل بيا موسکی شي؛ خو هېڅوک نه پوهېدل چې څه پېښنه به ورسره کېږي. موږ ته يې امر وکړ چې خپل وسايل په ريل ګاډي کې پرېږدو، خپله په دوو ليکو کې ښځې يوې او سړي بلې خوا ته ودرېږو او د SS افسر په مخکې تېر شو. ما دا زړه وکړ چې خپله بکسه مې تر کورتۍ لاندې پټه کړه. زه چې په کومه ليکه کې وم، يو يو کس يې د SS افسر له مخې تېرېده. په زړه کې په دې هم وېرېدم چې که دا افسر زما بکس وګوري، نو کيسه به خرابه شي. له تېرو تجربو پر دې پوهېدم چې که نور څه نه وي، پر ځمکه خو به مې راځملوي. په دې خاطر به چې څومره افسر ته نږدې کېدم، نېغ نېغ به روان وم چې زما دې درانه پنډ ته يې پام نه شي. له افسر سره مخامخ شوم. افسر ښايسته دريشي اغوستې وه. لوړ دنګ وچ سړی و. موږ له لرې ځايه راغلي وو. څېرې مو ګډوډې وې. زموږ برعکس دی ډېر منظم و. په څېره کې يې ډاډ ښکارېده او په بې پروايۍ يې راته کتل. په چپ لاس يې د ښي لاس مټ نيولی و. همدا ښی لاس به يې پورته کېده او د همدې لاس د شهادت په ګوته به يې ښي او چپ لاس ته اشاره کوله.
موږ يو هم د چپې او ښۍ اشارې پر مطلب نه پوهېدو. خو کله به يې ښي لاس ته اشاره کوله او کله چپ ته. د چپ اشاره يې لږه ډېره وه.
زما وار شو. چا راته په غوږ کې ورو وويل چې ښي لاس ته اشاره په دې مانا ده چې دا خلک کار ته لېږل کېږي او چپ لاس ته هغه خلک لېږي چې ناروغه وي او کار نه شي کولای. دوی يوه مخصوص کمپ ته لېږل کېږي. زه هم خپل وار ته په تمه وم چې څه به راسره کېږي.
همدا له موږ سره د نورو کېدونکو پېښو پيل و. غوټې لږ چپ لاس ته کوږ کړی وم؛ خو بېرته مې ځان رانېغ کړ او سيده شوم. د SS مامور راته لاندې باندې وکتل، په سترګو کې يې شک ښکارېده. بيا يې لاسونه زما پر دواړو اوږو کېښودل، ما هڅه کوله چې ځان نېغ وساتم. زما اوږه يې ورو تاوه کړه. ما ښي لاس ته وکتل، همدې خوا ته يې اشاره وکړه او زه هم روان شوم.
**دوام لري...**

# د غنې ځاله

◄ اکسوس کتابپلورنځی



د غنې ځاله د پښتو ادب د وتلي داستان ليکونکي ښاغلي نصير احمد احمدي تازه چاپ شوی ناول دی. نصير احمد احمدي په ناول ليکنه کې اوس يو پېژندل شوی نوم دی او هغه د چا خبره د هېچا د تعرف محتاج نه دی. د احمدي د ټولو ناولونو ژبه روانه، عاميانه، کليوالي، خوږه او تلوسه پکې خورا ډېره وي. مانا دا چې د خلکو په ژبه خبرې کوي او د ناولونو موضوع ګانې يې هم تر ډېره په ورځني او ټولنيز ژوند را څرخي. د غنې ځاله يې وروستی چاپ شوی ناول دی. ناول په لومړي سر کې په ټولنه کې د ناوړه دودونو لکه شراب خوړلو، قمار بازۍ، په قمار کې د لوڼو په بايللو، له دې ناوړه چارو څخه په زېږېدونکو ستونزو، په کورنۍ تاوتريخوالي او بدګمانۍ پيلېږي. وروسته د ناول اصلي کرکټره يوه کونډه مور ده، چې د څومره ستونزو په ګاللو سره د ژوند ناخوالو ته نه تسليمېږي، خپل همت نه بايلي، په کار او مزدورۍ نه شرمېږي، د خلکو ډول ډول خبرې پر سر اخلي، له مخکېدونکو بدسترګو کسانو سره مبارزه کوي، د اولادونو روزنې ته يې پام وي، ځان زحمت ته ورکوي، په ښه راتلونکي باور لري، ورته د رسېدو هڅه کوي، په خپل لوړ همت د ځان، اولادونو او لسګونو نورو کورنيو ژوند بدلوي.
ژوند د غنې ځاله دی، هرو مرو سړی پکې راګېرېږي، که مو ترې د راوتلو هڅه ونه کړه بيا مو بايللې ده، خو که مو لاس او پښې وخوځول او ځان ته مو ټکان ورکړ، برياليي کېدای شي. له ستونزو پرته ژوند کول ناممکن دي او که وي هم انسان د ژوند کولو په خوند نه پوهېږي. سيند هغه شور کوي چې مخه يې ډبرو ډپ کړې وي. ژوند کول منډه غواړي، زحمت غواړي، مبارزه غواړي او د بريا خوند هغه څوک څکلی شي، چې ماتې يې خوړلې او بيا را پورته شوي وي. د احمدي صيب ياد ناول پر همدې روحيې او انګېزې راڅرخي، هغه مو د خپل ژوند ژورو ته بيايي، ستونزې در باندې ويني، زحمت در باندې ګالي، له پېغورونو او سختو ورځو سره مو مخ کوي؛ خو بيا بېرته د وتلو لار هم درته ښيي، هغه درته وايي چې تاسې کولی شی د ژوند له سختيو(غنې ځاله) څخه ووځی، حتمن د وتلو يوه لاره شته، دا له تاسې او ستاسې له ژوند راتاو شوې لومې حتمن شلېږي؛ خو تاسې يې د شلولو لپاره همت وکړئ، بيا بيا هڅه وکړئ او بالاخره له هغو کلکو لومو ځان خلاص کړئ.د نصير احمد احمدي ناولونه ډېر مينه وال لري او هر ناول يې د لوستونکو له تاوده هرکلي سره مخ شوی دی. د ښه هرکلي يو علت يې هم دا دی چې نوموړی د ولس په ژبه ناول ليکي او هغه څه پکې بيانوي چې د ولس غوښتنه وي. دا ناول يې هم پر همدې ځانګړنه سمبال دی. که غواړی چې د ستونزو پر وړاندې د مبارزې چل زده کړئ، دا ناول ولولئ، ډېرې ښې لارې به درته وښيي. مينه وال کولای شي ياد کتاب پر اکسوس سربېره د ښار له نورو لويو کتابپلورنځيو هم په مناسب قيمت تر لاسه کړي.


### روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | ليکوال/ژباړن | بيه |
|---|---|---|---|
| 1 | ميرويس خان نيکه (تاريخي ناول) | محمد زبير شفيقي | ۲۵۰؋ |
| 2 | سياست پوهنه | فرهاد داوري | ۳۰۰؋ |
| 3 | ملي دريځ | حبيب الله رفيع | ۸۰؋ |
| 4 | برمودا، مثلث او دجال | هاصم عمر/عمران لمر | ۲۰۰؋ |
| 5 | په اسلام کې د فقر درملنه | علامه يوسف قرضاوي | ۱۸۰؋ |
| 6 | نوی الحاد په رنګينه بڼه | مراد يوسفي/عزيزالله شهباز | ۲۳۰؋ |
| 7 | کوه نور | ويليم ډالر ږمپلانيتا انند/طاهر صابزاده | ۲۰۰؋ |
| 8 | پښتانه څوک دي؟ | دوست شينواری | ۷۰؋ |
| 9 | اقيانوسيه جلد سوم | احسان الله ارينزی/واکمن احمد شاکر | ۲۰۰؋ |
| 10 | خاستګاه | دن براون/فريبا جعفری نمينی | ۴۰۰؋ |
| 11 | نيم کيلو باش ولی عاشق باش! | سعيدګل محمدی | ۱۶۰؋ |
| 12 | تنها نکته ای که لازم است بدانيد | مارکوس باکينګهام/ګيتی شهيدی | ۲۳۰؋ |
| 13 | قدرت فيض | جوئل اوستين/فريبا جعفری نمينی | ۲۶۰؋ |
| 14 | مشاوره خصوصی با ربارادی آنجليس | با ربارادی آنجليس/هادی ابراهيمی | ۲۸۰؋ |
| 15 | پيش بينی آينده | آنتونی رابينز/مجيد پزشکی | ۱۸۰؋ |
| 16 | آينده خود را بسازيد | آنتونی رابينز/مجيد پزشکی | ۱۳۰؋ |
| 17 | مديريت احساسات | آنتونی رابينز/مجيد پزشکی | ۱۵۰؋ |
| 18 | خودت را بشناس | آنتونی رابينز/مجيد پزشکی | ۱۵۰؋ |
| 19 | پرسش های کوانتومی | آنتونی رابينز/مجيد پزشکی | ۱۵۰؋ |
| 20 | قدرت ايمان | آنتونی رابينز/مجيد پزشکی | ۱۵۰؋ |
| 21 | نيروی باورها را در يابيد | آنتونی رابينز/مجيد پزشکی | ۱۵۰؋ |
| 22 | مبانی سازمان و مديريت | علی رضائيان | ۲۰۰؋ |
| 23 | مردم دولت ها و هراس | باری بوزان | ۳۰۰؋ |
| 24 | د مچۍ ځاله | سعدالدين شپون | ۱۷۰؋ |
| 25 | د زړو هيندارو کور | اسدالله غضنفر | ۴۰۰؋ |
| 26 | د اجمل خټک کليات | ايازالله ترکزی | ۳۵۰؋ |
| 27 | سرطان درملنه | ماکس ګرسون / اسماعيل اشنا | ۳۲۰؋ |
| 28 | دواخانه | علی وارسته | ۴۵۰؋ |
| 29 | درملتون | علی وارسته / محمد نواب خوښ | ۴۰۰؋ |
| 30 | ادويه شناسی | علی وارسته | ۴۰۰؋ |

په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړيکه ونيسئ

پته: دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
اړيکه: 0798-98-9696 - 0202504652

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۳۰ |
| € | ۹٤,۵۰ |
| Rp. | ٤۹۷ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۰۷۰ |
| £ | ۱۰۸ |

## بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# ښځه او چاپېریال

عابدالله حیدرزی

د مور غېږ د روزنې لومړنۍ مدرسه ده، پر دې سربېره چې هر ماشوم د ښو او بدو عادتونو تر څنګ نور څه هم زده کوي، ښځې په عینې وخت کې له چاپېریال سره نږدې اړیکې لري چې په مستقیم او غیر مستقیم ډول له هغه څخه برخمنې کیږي. پر ځای د دې چې ښځې چاپېریالي ژوند ته ځانګړې پاملرنه کوي، ښځې کولی شي چې د چاپېریال ساتنې لپاره هم ډېر څه وکړي.


په چاپېریال کې ککړتیا که هغه د اوبو، خاورې او هوا وي، اصلي منبع یې کورونه دي چې زیاتره یې په کورونو کې تولیدیږي. په ازاده فضا کې ککړتیا هغه وخت رامنځته کېږي، چې موږ یې د پاک ساتلو لپاره لازم اقدامات ونه کړو. کله چې زموږ او ستاسې په کورونو کې کثافات جمع شي، هغه کثافات بیا موږ راخلو او پر ځای د دې چې کثافت دانۍ کې یې واچوو، هغه د جومات، بل چا د کور او یا هم په لارو کوڅو او یا یې هم ویالو ته ور اچوو او ویالې وربندې ډکوو او که ډېر مهربانه اوسو، د ټاکلو کثافت دانیو په څنګ کې یې ږدو.

ښاروالي په هر ځای کې کثافت دانۍ ایښې، خو موږ څوک ونه لیدل چې کثافات په کثافت دانۍ کې واچوي. همدا لامل دی چې چاپېریال مو ورځ تر بلې مخ په خرابېدو دی.

د چاپېریال ساتنې برخه کې د ښځو اساسي دنده څه ده؟ او په دې برخه کې څه کولی شي؟ موږ په همدې مقاله کې خبرې پرې کوو.

دا چې له سړیو څخه ښځه ډېره په کور کې وي او ټوله ورځ په کور کې په کارونو بوخت وي، نو د ښځو لپاره لاندې ټکې کولای شي چې د چاپېریال په ساتنه کې رغنده رول ولوبوي:

۱- ښځې راتلونکي نسلونو ته د چاپېریالي فرهنګ د لېږد اصلي عامل دي. په دې ډول چې ښځې د خپلو اولادونو روزنه او پالنه کوي، د ماشوم له پیدا کېدو سره سم د ژوند کولو لارې چارې، فرهنګ، رسم او محیط سره اړیکې له خپلې مور څخه زده کوي. څه ډول چې د ژوند کولو فرهنګ د ښځو په منځ کې عام شي او ښځې د اکو سیستم توانمندي وپېژني، په هغه صورت کې کولی شي چې دغه معنوي میراث خپلو اولادونو ته ولیږدوي. نو ضرور ده چې لومړی باید په دې موضوع خپله ښځې پوه شي او بیا یې خپلو اولادونو ته ورسوي.



۲- ښځې چې د کور د سمبالښت مدیریت په واک کې لري، کولی شي چې د کور او محل د چاپېریال ساتونکې واوسي.

۳- ښځې د اضافي لګښتونو په مخنیوي کې ښه او رغنده مرسته کولی شي. په همدې دلیل ښځې د کور په اداره او د ماشومانو په ساتلو او روزلو کې رغنده رول لري، طبعي د لږ مصرف فرهنګ چې ځانګړی رول په دې برخه کې لري، د ښځو په وسیله منځته راځي.

۴- که چېرې ښځې د اوبو د مصرف په برخه کې له مناسب فرهنګ څخه برخمنې شي، د کورنۍ نورو غړو ته د دې فرهنګ په لېږد سره کولی شي په کال کې زرګونه لیتره اوبه په خپل کور کې له بې ځایه مصرف څخه راوګرځوي.

۵- د کاغذي رومالونو او لاس پاکونو او دېته ورته نورو کاغذونو کارولو کې کموالی او په وخت او مناسب ځای کې یې استعمال تر ډېره د ښځې دنده ده او که یې په مناسب ځای او وخت ترې ګټه واخلي، هغه ده چې یو ښه چاپېریال به ولرو.

٦- په کورونو کې د ځمکې لاندې اوبو د ککړتیا د مخنیوي په موخه د درملو پر ځای د نورو سیمه ییزو دودیزو موادو کارول.

۷- په کورونو کې د برښنا لږ استعمال چې په دې توګه د سلفر دای اکساید کچه را کمیدای شي.

۸- د پلاستیک او یو وار مصرف لوښو مخنیوی او یا لږ کارول چې وروسته بیا د هغې د تجزیې لپاره ۵۰۰ کاله لازم دي. که چېرې له هغه څخه په کمه اندازه کار واخیستل شي، د چاپېریال ساتنې برخه کې به ډېره مرسته وکړای شي.

که چېرې ښځې د خپل کور پاک ساتلو، په وخت او پر ځای د اوبو مصرفولو، کثافاتو پر ځای اچولو او په لارو او سړکونو باندې د کثافاتو نه اچولو هنر خپلو اولادونو ته وښیي، پرته له شکه چې دا به د یو ښه چاپېریال په رامنځته کولو کې تر بل هرڅه ډېره مرسته وکړي.

خو دې موخو ته د رسېدو لپاره او په یاده برخه کې د ښځو ښه پوهاوی ممکن ډېر وخت وغواړي او په دې برخه کې ډېرې ستونزې وي. تر ټولو اړینه دا ده چې ښځو ته نن ورځ د نړۍ په ډېرو هیوادونو کې د چاپېریال او نورو کارونو کې کمه ونډه (سهم) ور کړل شوې ده او د هغوی فعالیتونه نادیده بلل کېږي. له همدې کبله د دوی زده کړې محدودې دي او دلیل یې دا دی چې ښځې د کور د کارونو او نورو فعالیتونو له امله نشي کولی چې زیات وخت د محل په کارونو، د کلي او کرنې په چارو کې تېر کړي او یا حداقل په دې برخه کې خپله پوهه لوړه کړي، نو ځکه یې زده کړې نیمګړې دي او په ښه ډول د چاپېریال په ساتلو کې ونډه نه شي اخیستلی. پکار ده چې په دې برخه کې تر بل هرچا او هرې منبع رسنۍ دې برخې ته زیاته توجه وکړي او د خپلو پروګرامونو او برنامو له لارې په دې برخه کې د ښځو د عامه پوهاوي په موخه اغېزناک فعالیتونه ولري.

د دې کړنو په تر سره کولو سره به موږ وکولای شو چې د چاپېریال د ککړتیا مخه او یا یې هم اثرات تر یوځه اندازې راکم کړو.

سره صلیب ټولنه:

# کرونا ویروس په ترکیه کې د مېشتو میلیونو سوري کډوالو ژوند ته جدي ګواښ پېښ کړی

د ترکیې سره صلیب او هلال احمر سازمانونو په تازه راپور کې ویلي چې د کرونا ویروس له کبله په ترکیه کې د میلیونونو سوریایي کډوالو ژوند له جدي ګواښ سره مخ شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې په ترکیه کې اوسمهال نږدې څلور میلیونه کډوال ژوند کوي چې ډېری یې د سوریې اوسېدونکي دي. د کډوالو ډېره برخه د کار کولو قانوني اجازه نه لري، خو دوی د خپل ژوند د پرمخ بېولو لپاره غیر رسمي کارونه کول، خو د کرونا ویروس له خپرېدو وروسته ډېر کاروبارونه تړل شوي او ډېر خلک وزګار شوي دي.

د سره صلیب د نړیوال فدراسیون د عملیاتو د برخې مشر جانتن براس ویلي: « نتیجه دا شوه چې د کډوالو کاروبار او ګټه وټه یې محدوده کړه چې د ژوند اساسي ضرورتونه اوبه، صحت او برېښنا پوره کړي.»

نوموړي ویلي چې د دوی د راپور یوه اساسي موندنه دا ده چې ډېری کډوال بې کاره شوي، په نورو ستونزو کې ګیر شوي او تر ډېرو سختو پورونو لاندې ژوند کوي. په راپور کې راغلي چې د تېرکال په پرتله د سوریایي کډوالو په منځ کې د پورونو کچه ۵۰ سلنه لوړه شوې او هغوی مجبور دي چې د ژوندي پاتې کېدو لپاره بېلا بېلې لارې غوره کړي.



براس زیاته کړې چې د سوریایي کډوالو د خوراک او څښاک کیفیت او کمیت هم خورا بدل شوي، کم شوي او د ډېرو بېلونو پیسې هم وربندې پاتې دي او ډېر پوروړي شوي دي.

په راپور کې خبرداری ورکړل شوی چې د کډوالو منابع او د مبارزې وسایل ختم شوي، د پورونو اندازې لوړې شوې او که د کروناویروس محدودیتونه همداسې روان وي، د کډوالو ضرورتونه به هم په ډراماتیک ډول زیات شي. ترکیې سره صلیب او هلال احمر سازمانونه هر کډوال ته د میاشتې شاوخوا ۱۸ ډالر ورکوي، دا هغه پیسې دي چې اروپايي ټولنه یې د کډوالو لپاره ترکیې ته ورکوي.

څو ورځې مخکې د اروپايي ټولنې کمېشنرې اورزلا وون در لاین په یوه خبري کنفرانس کې د نورو مرستو ژمنه وکړه. هغې ویل: « موږ دا خبره روښانه کړې، چې له ترکیې او په سیمه کې له نورو شریکانو اردن او لبنان سره، چې میلیونونه سوریایي کډوال ساتي، مرستې رواني ساتو. د سوریې جګړه لس کلنه شوه او سیمه لا هم دا بار په شریکه وړي. دا زموږ په ګټه ده چې د کډوالو او د هغوی د کوربانه هېوادونو سره مرسته وکړو، په ځانګړې ډول د کروناویروس او سختو اقتصادي حالاتو کې.»هغې وویل چې اروپايي ټولنه به شاوخوا ۳.٦ میلیارد نور ډالر هم بېلوي چې تر ۲۰۲۴ز کال پورې په ترکیه کې له کډوالو سره مرسته وشي. نوموړې وویل چې دا پیسې به د اروپايي ټولنې له بودیجې څخه ورکول کېږي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ډیزاین: حسیب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
چاپخونه: وایګل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۴۰۰ د چنگاښ نهمه | د ۲۰۲۱ د جون ۳۰مه | ۷۴۲مه گڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳٦ | ۳٦ | ٤٠ | ۳۹ | ۳۹ | ٤٥ |
| ۱۸ | ۲۳ | ۲۳ | ۲۹ | ۲۹ | ۲۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۸ | لمر ختل ۰۴:۴۳ | ماسپښين ۱۱:۵۷ | مازيگر ۰۴:۵۹ | ماښام ۰۷:۱۱ | ماخوستن ۰۸:۵٦

## نړۍ




## محقق: اگر شورای عالی دولت ایجاد نشود اوضاع کشور بدتر خواهد شد



محمد محقق مشاور سیاسی و امنیتی رئیس جمهور هشدار می‌دهد که اگر رئیس جمهور با شماری از رهبران جهادی و سیاسی شورای عالی دولت را ایجاد نکند، اوضاع کشور بد تر خواهد شد.

محقق در یک گفت و گو تلویزیونی گفته است که ایجاد نشدن شورای عالی دولت، زمینه برای برای تصرف مناطق بیشتر از سوی طالبان مساعد خواهد ساخت که منجر به بدتر شدن اوضاع امنیتی در کشور خواهد گردید.وی گفت: «اگر شورای عالی دولت شکل بگیرد و صادقانه همکاری شود، اوضاع بیشتر از این خراب نمی‌شود، اگر همین گونه بی تفاوتی بود و کس کسی را پیدا نتوانست، در وزارت دفاع تلیفون کنی کسی پیدا نشود، یک جای دیگر تلیفون کنی کسی پیدا نشود، جلسه که لازم است برای مشوره فراهم نشود، بعد طالبان می‌آیند و همه جا را می گیرند.»این در حالیست که چند هفته پیش حکومت از مشوره ها برای ایجاد شورایی زیر نام شورای عالی دولت برای مدیریت اوضاع افغانستان پس از بیرون شدن نیروهای خارجی از کشور خبر داد، اما منابعی می گویند که اختلاف ها برسر چگونه گی صلاحیت ها و ترکیب این شورا از موانع اصلی ایجاد این شورا استند.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر له ۱۸۲ میلیونه او ۳۳۳ زرو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر۱۸۲ میلیونه او ۳۳۳زره او ۹۳۵کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دري میلیونه او۹۴۸ زره او۱۷۳ کسان مړه شوي او نږدې ۱٦۷ میلیونه تنې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۴میلیونه او ۵۱۱ زره او ۹۹۵ ته رسېدلې او ٦۱۹ زره او ٦۰۷ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۳۰میلیونه او ۳۳۱ زره او ۹۴ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۸ میلیونه او ۴۴۸ زره او ۴۰۲ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریېم، فرانسه د پنځه میلیونه او ۷۷۰ زره او ۵۳۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او روسیه د پنځه میلیونه او ۴۹۳ زره او ۵۵۷ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

ترکیه، برېټانیا، ارجنټاین، ایټالیا او کولمبیا بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## بایډن: ایران ته به د اټومي وسلو د جوړولو اجازه ور نه کړو



د امریکا ولسمشر جو بایډن اسراییلو ته ډاډ ورکړی، چې ایران به هېڅکله اټومي وسلو جوړولو ته پرې نه ږدي. بایډن دا ژمنه د اسراییل له ولسمشر ریو وین ریولین سره چې د کار دوره یې د ختمېدو په حال کې ده، په سپینه ماڼۍ کې د کتنې پر مهال کړې ده.

د یادونې ده چې په اسراییل کې جمهوري ریاست تر ډېره تشریفاتي مقام دی. ریولین د دې میاشتې په پیل کې وروسته له دې چې نفتالي بینیت د بنیامین نتانیاهو پرځای د اسراییل نوی لومړی وزیر شو، له خپل مقامه لېرې کېږي. بایډن دغه راز هیله څرګنده کړې چې د اسراییل له نوي لومړي وزیر سره به ډېر ژر په سپینه ماڼۍ کې وګوري.

د بایډن دغه څرګندونې داسې مهال دي چې د اروپایي هېوادونو په منځګړیتوب د ۲۰۱۵ز کال اټومي تړون ته د امریکا د بیا ستنېدو په تړاو د تهران او واشنګټن ترمنځ خبرې روانې دي. د امریکا مخکیني ولسمشر ډونالډ ټرمپ په ۲۰۱۸ ز کال کې امریکا له ایران سره د نړیوالو قدرتونو له شوي تړون وایستله او پر دغه هېواد یې بېرته اقتصادي بندیزونه ولګول. ایران هم د امریکا د دغه اقدام په بدل کې خپل اټومي فعالیتونه بېرته ډېر کړل، خو اوس دواړه هېوادونه هڅه کوي، چې بېرته یاد تړون ته ور وګرځي.

## ژوند


## ون‌پلس تر ټولو ارزان بیه ځیرک موبایل




ون‌پلس کمپنۍ خپل تر ټولو ارزان بیه ځیرک موبایل معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل ون‌پلس نورډ سي اي (OnePlus Nord CE) نومول شوی دی. دغه ځیرک موبایل کې له ۹۰ هرتز ریفرېش ریټ څخه ملاتړ کوونکې ٦،۴۳ انچه امولېډ ډوله مخپاڼه ورکړل شوې ده. ون‌پلس نورډ اېس اي به ٦//۸/۱۲ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتوني ورتیا لرونکې بڼې ولري. دغه ځیرک موبایل کې ۴۵۰۰ ملي امپیره ورتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې چې ۳۰ واټ ډش ۳۰تي چټک چارج ټکنالوژۍ څخه ملاتړ کوي او یوازې ۳۰ دقیقو کې ۷۰ سلنه چارجېږي. دغه ځیرک موبایل کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۷۵۰ ډوله پروسېسر هم کارول شوی دی. د دغه ځیرک موبایل ٦ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتوني ورتیا لرونکې بڼې بیه ۲۹۹ یورو، ۸ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتوني ورتیا لرونکې بڼې بیه ۳۲۹ یورو او د ۱۲ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتوني ورتیا لرونکې بڼې بیه بیا ۳۹۹ یورو ټاکل شوې ده.

## د شپې ناوخته ویده کېدونکو کسانو لپاره بد خبر

روغتیاپالان وایي، د شپې ناوخته ویده کېدو تاوان له هغې هم ډېر دی، څومره چې دوی فکر کاوه. په یوه نړیواله وېبپاڼه کې په خپره شوې څېړنه کې ویل شوي، چې د شپې ناوخته ویده کېدل د ذهني روغتیا لپاره ډېر تاواني دي. په دغه څېړنه کې روغتیاپالانو د شپې ناوخته ویده کېدو او سهار وختي پاڅېدو په اړه خبرې کړې دي. دوی وایي چې د خوب په اړه ۳۴۰ جینونه معلوم شوي دي، چې یوازې د ۲ جینونو یې په ۸۰۰ زره کسانو باندې تجربه کړې ده. په دې څېړنه کې نه یوازې دا چې جینیاتي شمېرې شاملې شوې دي، بلکې د انسانانو د خپګان تشخیص هم د لابراتوار د ریکارډ په مرسته شوی دی او د انسانانو د ویده کېدو او راویښېدو د وختونو پوره او بشپړ جزیات اخیستل شوي دي.



د څېړنې په پایله کې روغتیاپالانو ویلي دي، هغه کسان چې سهار وختي پاڅېږي، د سهار ناوخته پاڅېدونکو په پرته د ډپریشن خطر پکې ۲۳ سلنه کم وي.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزيزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزی بانک
Azizi Bank